

# د نري رنځ (توبرکلوز)....
# یو ناپېژانده



FARES
Fonds des affections respiratoires asbl

## سکرينينګ يا تشخيص د چا لپاره دي؟



- د هغو خلکو لپاره چې د توبرکلوز(د نری رنځ) اخته کس سره په دې وروستيو کې له نيږدې په تماس کې وي.

- د هغو کسانو لپاره چې د نري يا د توبرکلوز مرض اخته کېدو خطر يې د دوی د فعالیتونو له امله ډېر وي.

## څنګه باید تدواي شي؟

**د انفيکشن په مرحله کې، يا د پټ نري رنځ په مرحله کې:**

ډاکټر کولی شي تاسو ته د مخنیوی درملنه درکړي : دا د دې لپاره نه ده چې تاسو ته شفا درکړي، (ځکه چې تاسو په دې مرحله کې ناروغ نه یاست) مګر په راتلونکي کې د نري رنځ يا توبرکلوز د پراختيا خطر کموي. په عموم کې، یو واحد درمل (انتي بیوټیک) هره ورځ د 6 میاشتو لپاره اخیستل کیږي

**که توربکلوز ناروغي تاييد شوي وي :**

په دې حالت کې درملنه خورا اړينه ده، او اوږده ده، تاسو لږ تر لږه 6 مياشتې او هره ورځ د څو درملو (انتي بيوټيکونو) اخيستلو ته اړتيا لرئ. درملنه په نږدې 100٪ قضيو کې ترلاسه کيږي که چيرې درمل په سمه توګه وخوړل شي.



**زموږ سره اړيکه ونيسئ :**


**د تنفسي ناروغيو فند ASBL**

- **مرکزي ټيم**
Rue Haute 290, Bâtiment 800 1000 Bruxelles
ټيليفون : 025122946 فکس : 025111417
info@fares.be

- **په بروکسل کې د نري رنځ (توبرکلوز) د مخنيوي مرکز**
ټيليفون : 025115401
cpt.bruxelles@fares.be

- **د Hainaut د نري رنځ (توبرکلوز) د مخنيوي مرکز**
ټيليفون : 071313504
cpt.hainaut@fares.be

- **د Liège د نري رنځ (توبرکلوز) د مخنيوي مرکز**
ټيليفون : 042793008
cpt.liege@fares.be

- **د Luxembourg د نري رنځ (توبرکلوز) د مخنيوي مرکز**
ټيليفون : 084320640
cpt.luxembourg@fares.be

- **د Namur او Brabant wallon د نري رنځ (توبرکلوز) د مخنيوي مرکز**
ټيليفون : 081775102
cpt.namur-brabantwallon@fares.be


FARES
Fonds des affections respiratoires asbl

Francophones Bruxelles — COMMISSION COMMUNAUTAIRE COMMUNE — INAMI — Wallonie familles santé handicap AViQ


Éditeur responsable : Pr. Van Vooren, FARES asbl. D/2020/5052/1 Illustrations : Christian Papazoglakis

## د نري رنځ یا توبرکلوز څنګه تشخیص کیږي؟


د پوستکي لاندې د تیوبرکولین پیچکاري دا په ډاګه کولی شي چې ایا تاسو په BK اخته یاست که نه. که پرې اخته وی، د پیچکارۍ د ورځې څخه د ۳ نه تر ۵ ورځو پورې د پیچکارۍ ځای کې محلي عکس العمل ښکاره کیږي. دې معاینې ته د تیوبرکولین د پوستکي معاینه ویل کیږي (یا پخوا د انټراډرمل عکس العمل یا مانټوکس ټیسټ ویل کیږي) او باید د روغتیا مسلکي کسانو لخوا درته تشریح شي.

که د معاینې نتیجه مثبت وي، د سږو ایکس رې باید واخیستل شي:

- کله چې  ایکس رې نورمال راوښیږي،دا د یو پټ نري رنځ انفیکشن نښه ده.

- که نه نو، د سږو د نري رنځ تشخیص لپاره به اضافي معاینات ترسره شي (د بیلګې په توګه: په بلغم کې د BK لټون)

## د پټ نري رنځ انفیکشن او د نري رنځ ناروغي یا توبرکلوز ترمنځ څه توپیر دی ؟



کله چې BKs سږو ته ننوځي، دوی ډیری وختونه د بدن دفاعي سیستم په واسطه له مینځه وړل کیږي

که په بدن کې پاتې شي، د BKs میکروب معمولا "ویده" وي. له همدې امله دوی خطرناک نه دي. په دې مرحله کې، کوم چې د پټ نري رنځ انفیکشن سره مطابقت لري، موږ نه ناروغه یو او نه موږ ساري یو.

خو که چیرې د بدن دفاع کافي نه وي (ځکه چې تاسو زاړه یاست، ډیر ځوان یا کمزوری یاست)، BK میکروب کولی شي ویښ شي، ډېر شي او د نري رنځ ناروغي رامینځته کړي.

په دې وخت کې، لاندې نښې نښانې رابښکاره کیدی شي که چیرې د نری رنځ په سږو کې ځای په ځای شوی وي:

- توخی
- بلغم (کله ناکله د وینې سره)
- ستړیا
- تبه
- د شپې خوله کېدل
- د وزن کموالی

**په دې حالت کې، ژر تر ژره د ډاکټر ته ځان ورسوئ !**



بلغم



ټوخی



د وزن کموالی



په خوب کې خوله



تبه



ستړیا

## د نري رنځ یا توبرکلوز څه شی دی ؟

نري رنځ یا توبرکلوز یوه ناروغي ده چې د د کوچ بیکیلس (BK) میکروب له امله رامینځته کیږي ، دا اکثرا په سږو برید کوي مګر کولی شي د بدن په نورو برخو لکه هډوکي، کولمې، پښتورګي، او دماغو باندې هم اغیزه ولري .

## څوک پرې اخته کیدلی شي ؟



د سږو نري رنځ یوه ساري ناروغي ده.

کله چې یو څوک ناروغ وي، د دوی په سږو کې موجود BKs په هوا کې خوشې کیږي نو کله چې دوی ټوخی کوي، خبرې کوي یا پرنجي وهي، که موږ دا هوا تنفس کړو، موږ په ورته وخت کې میکروبونه تنفس کوو.

له همدې امله هر څوک ممکن په دې ناروغی اخته شي. په هرصورت، ځینې خلک د اخته کیدو لوړ خطر لري. دا د ناروغو خلکو سره د پرله پسې او نږدې تماس درلودلو، د ژوند کولو لارو، او د وظیفې پورې اړه لري .